دعامې او روغتیايي وزارت

روغتیا اوونیزه

پرلیــکه خپـرونه

لومړی پړاو - اته پنځوسمه گڼه

۱۴۴۸-۵-۱۷

- په 12 ولایتونو کې د درملو د راپور ورکولو فورم د تشریح روزنیز پروګرام پیل شو
- توزیع تجهیزات و مواد طبی به ارزش نزدیک به 20 هزار دالر به مراکز صحی دایکندی
- د هېواد د 34 ولایتونو د سرویلانس څانګو د ارقامو مدیرانو لپاره درې ورځنی روزنیز پروګرام پیل شو
- په اسمار ولسوالۍ کې د 49.7 میلیونه افغانیو په لګښت د عمومي روغتون د جوړېدو چارې پیل شوې
- په خاص کونړ ولسوالۍ کې د 60.5 میلیونه افغانیو په لګښت د عمومي روغتون د جوړېدو چارې پیل شوې

دویانډ فیي اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د زابل ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې د 59 میلیونه افغانیو په لګښت د 30 بستریز عمومي روغتون د جوړېدو ډېره کېښودل شوه



د یاد روغتون بنسټ ډېره د زابل مرستیال والي، الحاج ملا فیض‌الله تمیم له لوري د عامې روغتیا رئیس ډاکټر میرویس افغان، د استخباراتو ریاست مرستیال، د پوهنې رئیس، د ارغنداب ولسوال او د سیمې اوسېدونکو په شتون کې کېښودل شوه

دغه روغتون له داخلي بودجې څخه د عامې روغتیا وزارت تر رهبرۍ او ځارنې لاندې جوړېږي، چې ور سره به د سیمې اوسېدونکي معیاري روغتیایي خدمتونو ته اسانه لاسرسی ولري

سنگ تهداب یک مرکز صحی با هزینه 9 میلیون افغانی در منطقه گزک ولسوالی خاک افغان ولایت زابل گذاشته شد



سنگ تهداب این مرکز صحی از سوی الحاج ملا فیض‌الله تمیم، معاون والی زابل، با حضور داکتر میرویس افغان، رئیس صحت عامه این ولایت، خالد اخندزاده، ولسوال شاجوی و شماری از مسوولان دیگر گذاشته شد

این مرکز صحی از بودجه وزارت صحت عامه ساخته می‌شود که با تکمیل کار ساخت آن، زمینه ارائه خدمات صحی معیاری به باشنده‌گان منطقه فراهم خواهد شد

هرات ولایت کې 400 کیلوګرامه قاچاقي درمل راټول شول



د هرات ولایت عامې روغتیا ریاست د ځارنې او پلټنې مسؤلینو په هرات ښار کې د درملو له 21 عمده پلورنځیو څخه نظارت تر سره کړ

د یاد نظارت په ترڅ کې 400 کیلوګرامه قاچاقي درمل راټول او د له منځه وړلو په موخه ټاکل شوي ځای ته ولېږدول شول

Consumables worth AFN 6.1 million were provided to Nangarhar Regional Hospital with financial support from UNICEF.



The consumables were officially handed over to the hospital in the presence of Mawlawi Aminullah Sharif, Provincial Director of Public Health; Dr Mansoor, Director of Nangarhar Regional Hospital; and pharmacy officials.

The Provincial Director instructed that the consumables be distributed promptly to the operating rooms, emergency department, and other departments as needed.

بلخ ولایت کې د دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو وضعیت وارزول شو



د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي قوانینو د تطبیق او پلټنې رئیس، مولوي محموداالله زاهد له تخنیکي پلاوي سره بلخ ولایت ته د سفر په ترڅ کې د دغه ولایت له سیمه ییز روغتون، د یو شمېر خصوصي روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنه وکړه
د یادو لیدنو پر مهال د روغتیایي خدمتونو کیفیت، د کارکوونکو حاضري، د درملو او طبي وسایلو وضعیت، د روغتیا ساتنې شرایط او د روغتیایي معیارونو د تطبیق څرنګوالی و ارزول شو
همدارنګه، د نیمګړتیاوو د حل او روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه اړوندو مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وشوې

د دغه سفر موخه د روغتیایي مرکزونو د فعالیتونو ارزونه، د روغتیایي قوانینو او معیارونو د تطبیق پیاوړتیا او د هېوادوالو لپاره د معیاري روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو بهیر ښه والی بلل شوی دی

برنامه های آموزشی برای ارتقای ظرفیت داکتران و قابله های ولایت های هرات و فراه برگزار شد



دیپارتمنت وقایه و کنترول امراض غیر ساري ریاست عمومي وقایه و کنترول امراض وزارت صحت‌عامه، ورکشاپ های آموزشي چهار روزه را براي ارتقاي ظرفیت 50 تن از داکتران و یک ورکشاپ سه روزه را برای 50 تن از قابله ها و 100 تن از کارکنان صحی جامعه ولایت های هرات و ولایت فراه شامل کلینیك ها و شفا خانه ها در بخش هاي وقایه و کنترول، تداوي تشخیص مقدم، راجع نمودن بیماران به شفا خانه ها، مدیریت بیماران مصاب به امراض غیر ساري و مشوره های صحی برگزار کرد

در این برنامه های آموزشی داکتر محمد سمیع کریمي مسوول وقایه و کنترول امراض غیر ساري وزارت صحت‌عامه، نقش داکتران و کارکنان صحی جامعه را در وقایه و کنترول امراض غیر ساري موثر دانست افزود؛ ما از اشتراك کننده گان می خواهیم تا آموخته هاي خود را به دیگر همکاران خود در کلینیك ها، شفا خانه ها و قریه جات برسانند تا باشد افراد بیشتري را در این بخش اموزش داده باشیم

مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه و هیآت تخنیکی همراهش در جریان سفر شان به ولایت سرپل، با قاری بختیار معاذ، والی این ولایت، دیدار کرد



در این دیدار، وضعیت خدمات صحی، چگونگی عرضهٔ خدمات و مشکلات موجود مورد ارزیابی قرار گرفت
والی سرپل تلاش‌های وزارت صحت‌عامه را در راستای بهبود امور صحی قدردانی کرد و از همکاری خود در این زمینه اطمینان داد
همچنان، در مورد بهبود بیشتر کیفیت و شفافیت خدمات صحی، حل مشترک مشکلات موجود و فراهم‌سازی سهولت‌های لازم برای دسترسی مردم به خدمات صحی، بحث و تبادل نظر صورت گرفت

د عامې روغتيا وزارت د صدري ابن سينا تخصصي او ثالثي روغتون په روان کال کې 336 لوی او واړه جراحي عملیات ترسره کړي دي



په ترسره شویو عملیاتو کې 140 لوی او 196 واړه جراحي عملیات شامل دي، چې ټول د افغان متخصصو او مجربو ډاکټرانو له لورې ترسره شوي دي

همدارنګه، په یاد روغتون کې 12413 ناروغانو ته (OPD) او 1386 ناروغانو ته داخل بستر روغتیایي خدمتونه په وړیا توګه وړاندې شوي دي

برگزاری برنامه آموزشی ده‌روزه مدیریت شفاخانه‌ها برای 25 تن از مسؤولان شفاخانه‌های انتانی



یک برنامه آموزشی ده روزه در بخش مدیریت شفاخانه‌ها (Hospital Management) برای 25 تن از مدیران اداری، تدارکاتی، فارمسی و خدماتی شفاخانه‌های انتانی برگزار شد

این برنامه از سوی ریاست ارتقای ظرفیت وزارت صحت عامه و با حمایت مالی سازمان صحی جهان (WHO) ، برای نماینده گان شفاخانه‌های انتانی ولایت‌های قندهار، ننگرهار، قندز، هرات و مزارشریف برگزار گردید
هدف از برگزاری این برنامه، افزایش مؤثریت امور اداری و مدیریتی شفاخانه‌ها، بهبود تنظیم فعالیت‌های تدارکاتی و خدماتی و تقویت ظرفیت‌های مسلکی مسؤولان مربوطه در راستای ارائه خدمات صحی باکیفیت بود

د نشه‌يي توکو د زیانونو په اړه 512 زده‌کوونکو ته عامه پوهاوی ورکړل شو



د کابل آغوش 100 بستریز روغتون د عامه پوهاوي او وقایې ټیم د الحاج جنت ګل خان تره خېل مېنې 2 نمبر منځني ښوونځي کې 512 زده‌کوونکو ته د رورډي کېدو د مخنیوي او نشه يي توکو د زیانونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرام ترسره کړ
د یاد پروګرام اساسي موخه د نشه‌يي توکو د زیانونو په اړه د زده‌کوونکو د پوهاوي کچې لوړول، له رورډي کېدو څخه د ځوانانو ژغورنه او په ټولنه کې د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د هغوی د رول پیاوړي کول وو

د پروګرام پر مهال «په ژوند کې د نښه ملګري د انتخاب رول» تر شعار لاندې د سالم ملګري پر انتخاب او د نشه‌يي توکو په مخنیوي کې د ځوانانو پر وړې خبرې وشوې او له زده کوونکو وغوښتل شول، چې د خپلو ملګرو، کورنیو او ټولنو ترمنځ د عامه پوهاوي په خپرولو کې فعاله ونډه واخلي

Public and Private Healthcare Facilities Assessed in Balkh Province



Mawlawi Mahmoodullah Zahid, Director of Health Laws Enforcement and Inspection of the Ministry of Public Health, visited Balkh Province with a technical delegation to assess the performance of public and private healthcare facilities.

په غور ولایت کې 178 روغتیایي کارکوونکو لپاره د خوارځواکۍ او ماشومانو د هر اړخیزې ودې او پرمختګ په اړه روزنیز پروګرام پای ته ورسېد



یاد پروګرام د « Wasting او ECD » تر سرلیک لاندې د خوارځواکۍ له امله د بدن د وزن شدید کمښت تشخیص او درملنې او د ماشومانو د هر اړخیزې ودې او پرمختګ د ملاتړ په برخه کې د روغتیایي کارکوونکو لپاره تر سره شو

دغه روزنیز پروګرام د روغتیایي کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړولو او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه د غور ولایت عامې روغتیا ریاست له لوري د UNICEF په مالي ملاتړ جوړ شوی و، چې په بریالیتوب سره پای ته ورسېد

د عامې روغتیا وزارت له لوري د افغانستان د روغتیا دوهم ملي او نړیوال نندارتون د پیلېدو په تړاو خبري کنفرانس ترسره شو



یاد نندارتون چې د روان کال د عقرب میاشتې په 20مه نېټه به پیل او تر 24 نېټې پورې به دوام ولري، په اړه یې جوړ شوي خبري کنفرانس کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د دغه وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو او د بېلابېلو ادارو مسؤلینو او استازو ګډون کړی و

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني راتلونکی نندارتون د تجربو شریکولو او د همکاریو پیاوړتیا لپاره یو مهم فرصت وبالله او زیاته یې کړه، د ملي او نړیوالو کاري شریکانو او مسلکي بنسټونو همکاري د روغتیایي خدمتونو پراختیا او معیاري کولو برخه کې مهم رول لري

همداراز، د درملو او روغتیایي محصولاتو د تنظیم لوی رئیس، مولوي عبدالبصیر قانع، د شرکتونو، داخلي او نړیوالو تولیدو فابریکو او د رسنیو له استازو څخه وغوښتل، چې راتلونکي نندارتون کې ګډون وکړي؛ څو هېوادوال د درملو او روغتیایي محصولاتو برخه کې له شوي پرمختګ خبر شي.
نوموړي زیاته کړه، اوسمهال په هېواد کې 117 تولیدي کارخونې موجودې دي، چې څلورو تصدیق پانې ترلاسه کړي او 18 نورې د معیارونو د پوره کولو په حال کې دي GMP یې د یادونې وړ ده، چې په دغه خبري کنفرانس کې د راتلونکي نندارتون د موخو، ګټو او اهمیت په اړه معلومات وړاندې شول

Licensing Procedures Completed for 55 New Establishments and 758 Technical Manager Cards Issued in Mizan



The Directorate of Licensing of Pharmaceutical Establishments and Activities of the Ministry of Public Health completed the licensing procedures for 55 new establishments during Mizan of the current year. These included 27 importing companies, 17 pharmacies, and 11 pharmaceutical wholesalers. In addition, a total of 758 technical manager cards were issued across various relevant sectors.
Furthermore, during the same month, the Directorate completed the renewal of licences for 23 importing companies, the establishment of five warehouses for importing companies, the establishment of 10 branches of importing companies and pharmaceutical manufacturing factories, the transfer of 32 pharmaceutical establishments, and the ownership transfer of six pharmacies and pharmaceutical wholesale businesses.

په 12 ولایتونو کې د درملو د راپور ورکولو فورم د تشریح روزنیز پروګرام پیل شو



په دې درې ورځني روزنیز پروګرام کې د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئیس، مفتي عبدالقدوس هاشمي د روغتیایي معلوماتو پر کره والي او رونټیا او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت پر لوړولو ټینګار وکړ
نومورې وویل: د روغتیایي خدمتونو ښه والي او د درملو اړوندو معلوماتو د راپور ورکولو په بهیر کې د رونټیا تأمین لپاره د اړوندو ادارو، تخنیکي ټیمونو او تطبیق کوونکو مؤسسو ترمنځ همکاري او همغږي اړینه ده
یاد فورم د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي معلوماتو د مدیریت آمریت (HMIS) ، یونیسف اداري، د تطبیق کوونکو مؤسسو استازو او تخنیکي همکارانو په ګډه همکارۍ چمتو شوی، چې موخه یې د درملو اړوندو معلوماتو د راپور ورکولو بهیر معیاري کول او پیاوړي کول دي

د یاد فورم د ښه تشریح او تطبیق په موخه د هېواد په 12 ولایتونو کې د عامې روغتیا ریاستونو د روغتیایي معلوماتو مدیریت (HMIS) او فارمسي برخو مسؤلینو او د تطبیق کوونکو مؤسسو استازو ته په دوو جلا روزنیزو ټولګیو کې درې ورځنی روزنیز پروګرام پیل شوی دی
ټاکل شوې ده، چې یاد فورم په راتلونکي کې په نورو ولایتونو کې هم تطبیق شي

بیش از 22 تُن ادویه و محصولات صحی در کابل از بین برده شد



مسوولان ریاست نظارت و بررسی وزارت صحت عامه، 22 هزار و 229 کیلوگرام ادویه، محصولات صحی و سایر اقلام غیرقابل استفاده را که در جریان ماه میزان سال روان از دواخانه‌ها، مراکز طبابت سنتی، فابریکه‌ها و گمرکات جمع‌آوری شده بود، پس از طی مراحل مربوطه و در حضور مسوولان مربوطه به‌گونه مصوون از بین بردند

این اقلام به‌منظور جلوگیری از ورود محصولات غیرقابل استفاده به بازار و حفاظت از صحت عامه از بین برده شد

کابل ولایت کې څه باندې 22 ټنه درمل او روغتیایي محصولات له منځه یووړل شول

د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې ریاست مسؤلینو، د روان کال د میزان میاشتې په ترڅ کې له درملتونونو، د سنتي طب له مرکزونو، د درمل جوړولو فابریکو او ګمرکونو څخه راټول شوي، 22 زره او 229 کیلوګرامه درمل، روغتیایي محصولات او نور توکي د قانوني پراوونو تر بشپړولو وروسته، د اړوندو مسؤلینو په شتون کې له منځه یووړل

دغه اقدام د عامه روغتیا ساتنې او بازار ته د بې کیفیته درمل او روغتیایي محصولاتو د داخلېدو مخنیوي په موخه ترسره شوی



Noor Eye Care Tertiary and Specialization Hospital Performs (3672) Free Surgeries This Year

Of these, 518 were major surgeries and 3154 were minor surgeries, all performed by experienced Afghan specialist doctors.

The hospital also provided free outpatient department (OPD) services to 61292 patients and inpatient department (IPD) services to an additional 4120 patients.



د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د سرپل ولايت سانچارک ولسوالۍ له قومي مخورو سره ليدنه وکړه

په دې ليدنه کې چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي پراختيا او پاليسۍ مرستيال ښاغلي دوکتور محمد حسن غياثي هم شتون درلود د يادې ولسوالۍ د روغتيايي خدماتو پر وضعيت، د موجوده روغتون د خدماتو په لوړولو د ولسوالۍ د کچې نوي عمومي روغتون جوړيدو په اړه د مننې او د ولسونو لپاره د اسانتياوو رامنځته کولو اړوند بحث او خبرې تر سره شوې



قومي مخورو د خپلې ولسوالۍ جغرافيوي شرايطو او د روغتيايي خدماتو محدود لاسرسي ته په اشارې سره د خدماتو پراختيا اړينه وبلله او د عامې روغتيا وزارت له رهبرۍ څخه يې مننه وکړه چې دې ولسوالۍ ته يې د ولسوالۍ د کچې عمومي روغتون منظور کړی. نوموړو وويل، په تېرو دوه لسيزو کې دې سيمې ته د روغتيا په برخه کې هيڅ اساسي پاملرنه نه ده تر سره شوې او دا يو ډير ستر اقدام دی چې په جوړېدو سره به يې د سيمې روغتيايي خدمات لا زيات او پياوړي شي

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د قومي مخورو غوښتنې او وړانديزونه واوربدل او د اړوندو څانګو مسؤلينو ته يې لازمې لارښوونې وکړې، څو د دغه ولسوالۍ د روغتيايي ستونزو حل ته جدي پاملرنه وشي

محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه ا.ا. افغانستان، در دفتر کاری خود با هیئت شفاخانه‌های مدیپول و گروه آموزشی کشور ترکیه دیدار نمود

در این دیدار، هیئت یادشده پیشنهادها و طرح‌های همکاری خود را در زمینه ایجاد یک شفاخانه ویژه برای بیماران، همکاری در بخش خدمات عاجل امبولانس، تبادل تجارب در بخش صحت و تطبیق برنامه‌های آموزشی با محترم وزیر صحت عامه شریک ساخت



محترم وزیر صحت عامه به هیئت آمده اطمینان همکاری داد و گفت: «کشور ما در بخش صحت به کار و تلاش بیشتری نیاز دارد. همکاری و تلاش همه در این بخش قابل ستایش است و ما آماده هستیم تا با نهادهای همکار در بخش صحت، کار مشترک نماییم.»

Registration of 71 Types of Imported Medicines and Health Products and 12 Foreign Companies Completed in Mizan



The Ministry of Public Health's Committee for the Evaluation and Registration of Imported Medicines and Health Products registered 71 types of imported medicines and health products in Mizan this year, following a review of documentation and technical assessments. These included 47 products under Code G and 24 under Code N.

In addition, the registration process for 12 foreign companies was completed. These activities were carried out to improve the regulation of the imported medicines and health products market, assess documentation against technical standards, and facilitate the registration of eligible companies and products.

په مرکز کابل کې د درملو او روغتیایي محصولاتو له 18 تولیدي فابریکو څخه نظارتونه ترسره شوي



یاد نظارتونه د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت اړوند د څارنې او پلټنې ریاست د روان کال د میزان میاشتې په ترڅ کې ترسره کړي، چې پایله کې یې 11 تولیدي فابریکو ته اصلاحي مکتوبونه صادر شوي او د تخنیکي فعالیتونو نښه‌والي او د اړوندو معیارونو د رعایت لپاره ورته لازم موارد ابلاغ شوي دي
همدارنګه، اړوندو کارکوونکو د تولید د کرښو جوړولو، کروکی، د فابریکو د ودانولو او پرانیستلو په لسو فعالیتونو کې ګډون کړی او 12 شکمنې نمونې د کیفیت د تثبیت لپاره لابراتوار ته استول شوي دي

دغه اقدامات د عامه روغتیا ساتنې او د غیرقانوني فعالیتونو مخنیوي په موخه ترسره شوي دي

از یک تعداد دواخانه ها، معاینه خانه ها و فروشگاه های مواد غذایی در ولایت های فراه، کاپیسا و جوزجان نظارت صورت گرفت



در این نظارت ها که در مرکز ولایت فراه، بندر آقچه شهر شبرغان ولایت جوزجان و حصه دوم کوهستان ولایت کاپیسا صورت گرفت؛ در نتیجه آن 190کیلو گرام مواد غذایی بی کیفیت و 60 قلم ادویه تاریخ گذشته جمع آوری و به خاطر هدر به محل تعیین شده انتقال گردیدند

وزارت صحت‌عامه به منظور ارایه خدمات صحی بهتر در تلاش است تا این نظارت‌ها در سراسر کشور ادامه یابد تا خدمات صحی بهتر و باکیفیت برای نیازمندان ارایه گردد

د کابل ښار پل خشتي سیمه کې د رضاکارانه وینې راټولولو کمپاین ترسره شو



د عامې روغتیا وزارت د وینې ملي بانک له لوري د کابل ښار پل خشتي سیمه کې د عامه پوهاوي او رضاکارانه وینې راټولولو کمپاین ترسره شو
په دغه کمپاین کې له 28 تنو هېوادوالو څخه 14 زره سي سي وینه راټوله او د وینې مرکزي بانک ته ولېږدول شوه، چې له اړینو معایناتو وروسته به مستحقو او اړمنو ناروغانو ته ورکړل شي

د وینې مرکزي بانک هڅه کوي، چې د وینې راټولولو کمپاینونو او عامه پوهاوي پروګرامونو له لارې هېوادوال د وینې ورکولو ته وهڅوي؛ تر څو د اړمنو ناروغانو ستونزې راکمې او د هغوی غوره درملنه وشي

Khair Khana 102-Bed Specialization and Tertiary Hospital Performs (1354) Free Surgeries This Year



Of these, 952 were major surgeries and 402 were minor surgeries, all performed by experienced Afghan specialist doctors.

The hospital also provided free outpatient department (OPD) services to 70289 patients and inpatient department (IPD) services to an additional 8212 patients.

د باروری روغتیا د ستراتیژۍ بیاکتنې او تدوین په موخه د رهبری او تخنیکي کمیټې غونډه ترسره شوه



یاده غونډه د عامې روغتیا وزارت د پلان او پالیسۍ لوی رئیس، ډاکټر سید رسول منګل په مشرۍ ترسره شوه، چې په کې د دغه وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، د UNFPA ، روغتیا نړیوال سازمان او UNICEFادارې استازو ګډون کړی و
په دې غونډه کې ګډونوالو ته د باروری روغتیا، میندو، نویو زېږېدلو او ماشومانو د روغتیا (RMNCH) ستراتیژۍ د بیاکتنې او تدوین د اهمیت او د یادې ستراتیژۍ د بیاکتنې او تدوین د طرحې په اړه پریزنټېشنونه وړاندې شول

ګډونوالو د پریزنټېشنونو تر تشریح وروسته د باروری روغتیا ستراتیژۍ د بیاکتنې او تدوین په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک او د دې ستراتیژۍ د پلي کېدو په برخه کې یې له عامې روغتیا وزارت سره خپل ملاتړ څرګند کړ

نشست آموزشی تحت عنوان سیستم HEMIS برای نماینده گان 20 مؤسسهٔ همکار صحی برگزار شد



نشست آموزشی چهار روزهٔ سیستم معلوماتی HEMIS برای نماینده گان 20 مؤسسهٔ همکار عرضه‌کنندهٔ خدمات صحی، از سوی ریاست اقتصاد و تمویل صحت وزارت صحت‌عامه برگزار شد. که هدف آن، آشنایی مؤسسات با سیستم معلوماتی وزارت صحت‌عامه، نحوهٔ ثبت معلومات، مصارف و چگونگی گزارش‌دهی بود

در این برنامه، اشتراک‌کننده گان در بخش‌های نظری و عملی با اهداف و اهمیت سیستم (HEMIS)و مراحل ثبت معلومات و مصارف مؤسسات آشنا شدند. این برنامه آموزشی با حضور داکتر میرویس احمدزی، رئیس ریاست اقتصاد و تمویل صحت، و شماری از مسؤولان و نماینده گان مؤسسات همکار برگزار گردید

در پایان، برای اشتراک‌کننده گان نام کاربری(Username) توزیع شد تا معلومات و مصارف مؤسسات مربوط خود را در این سیستم ثبت کنند. این برنامه به‌منظور تقویت ظرفیت های مؤسسات همکار، بهبود ثبت معلومات و معیاری‌سازی روند گزارش‌دهی بود که بعد از چهار روز پایان یافت

Monitoring Conducted at 53 Pharmaceutical Import Companies in Kabul



The Directorate of Monitoring and Inspection of the Afghanistan Food and Drug Authority (AFDA), Ministry of Public Health, conducted monitoring visits to 53 pharmaceutical import companies in Kabul during Mizan this year. Of these, 47 companies were assessed using standardized checklists.

As a result of these inspections, five import companies were temporarily closed due to unauthorized operations, unauthorized representation offices, and issues with technical officers' documentation. In addition, three unauthorized representation offices were sealed.

The companies' documentation, business premises, warehouses, and pharmaceutical products were also assessed, and corrective and legal measures were taken where necessary.

These monitoring activities were conducted to protect public health and prevent illegal activities.

په کابل کې د انتاني ناروغيو درملنې او استقلال روغتونونو له خدماتي بهير څخه ليدنه وشوه



د عامې روغتيا وزارت د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئيس، ډاکټر امين الله مومند په کابل کې د انتاني ناروغيو درملنې او استقلال روغتونونو د خدمتونو له بهير څخه ليدنه او ارزونه وکړه
نومورې د يادو روغتونونو بېلابېلې څانګې وکتلې او د چارو د نظم، کاري بهير او وړاندې کېدونکو روغتيايي خدمتونو څرنګوالی يې وارزوه
هغه همداراز، د ليدنې پر مهال د روغتونونو له مسؤلينو او روغتيايي کارکوونکو سره د چارو لا ښه والي، د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړولو او د کاري نظم پياوړتيا په موخه خپل نظرونه شريک او هغوی ته يې لازمې سپارښتنې وکړې

کار ساخت دو شفاخانه 30 بستر به هزینه 110.3 میلیون افغانی در ولایت کنر آغاز شد



محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه ا.ا. افغانستان، در جریان سفرش به ولایت کنر، سنگ تهداب دو شفاخانه 30 بستر در سطح ولسوالی را در ولسوالی‌های خاص کنر و اسمار این ولایت گذاشت

در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شد، محترم مولوی عبدالله حقانی، معاون والی کنر، قاری مظفر مخلص، رئیس صحت عامه این ولایت، مسئولان ولسوالی‌های یادشده، علما، بزرگان قومی و شماری از مسئولان دیگر اشتراک داشتند
محترم وزیر صحت عامه گفت که ساختمان‌های این شفاخانه‌ها بر اساس شفقت و رهنمود ویژه امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، از بودجه ا.ا. افغانستان ساخته می‌شوند و در جریان سال جاری، کار ساخت بیش از 100 شفاخانه در سراسر کشور آغاز خواهد شد

همچنان، رئیس صحت عامه ولایت کنر گفت که شفاخانه 30 بستر ولسوالی خاص کنر به هزینه 60.5 میلیون افغانی و شفاخانه 30 بستر ولسوالی اسمار به هزینه 49.7 میلیون افغانی ساخته می‌شوند و کار ساخت آن‌ها در مدت یک‌ونیم سال تکمیل خواهد شد
با تکمیل این شفاخانه‌ها، باشندگان مناطق یادشده به خدمات صحی در بخش‌های داخله عمومی، جراحی، نسایی ولادی و صحت اطفال دسترسی آسان‌تری خواهند داشت

Ministry of Public Health Launches Three-Day Training Program for Surveillance Data Managers from 34 Provinces



Participants will learn standard procedures for collecting, consolidating, analysing and reporting surveillance data.

Mufti Abdul Qudus Hashimi, Director General of Monitoring and Inspection of the Ministry of Public Health, emphasized the importance of improving the quality, accuracy and transparency of health information. He added that the timely collection of data plays a vital role in improving the quality of healthcare services and enhancing the effectiveness of the surveillance system.

He thanked the World Health Organization (WHO) for supporting the programme and highlighted its valuable contribution to improving the quality of health information and strengthening the surveillance system.

د عامې روغتيا وزارت د وينې مرکزي بانک له لورې د اټومات مخابراتي شبکې په مرکزي دفتر کې د عامه پوهاوي او رضاکارانه وينې راټولولو کمپاين ترسره شو



په دې کمپاين کې له 81 تنو مسولينو او کارکوونکو څخه 41000 سي سي رضاکارانه وينه راټوله او د وينې مرکزي بانک ته انتقال شوه، چې له ضروري معاياتو وروسته به مستحقو او اړمنو ناروغانو ته توزيع شي

د وينې مرکزي بانک هڅه کوي، چې د وينې کمپاينونو او عامه پوهاوي له لارې هېوادوال وهڅوي، چې خپله وينه اهدا کړي؛ ترڅو وينې ته د اړمنو ناروغانو ستونزې حل شي

یک برنامه آموزشی سه‌روزه در بخش مکاتبات اداری، برای 20 تن از کارمندان سه ریاست وزارت صحت‌عامه، از سوی ریاست ارتقای ظرفیت این وزارت برگزار شد



در این برنامه، اشتراک‌کننده‌گان در مورد اصول مکاتبات اداری، نگارش مکتوب‌های رسمی و تنظیم اسناد اداری آموزش‌های نظری و عملی دریافت نمودند

هدف از این برنامه، ارتقای ظرفیت مسلکی کارمندان، بهبود کیفیت مکاتبات اداری و افزایش دقت و مؤثریت در انجام امور اداری بود

خوست ولايت کې 45 ټنه له نښې تېر، بې‌کيفيته او قاچاقي درمل، طبي او خوراکي توکي له منځه يووړل شول



د خوست عامې روغتيا رياست د ځارنې او پلټنې مسؤلينو د اړوند ادارو په همکارۍ د نظارتي فعاليتونو په بهير کې د دغه ولايت په مرکز او ولسوالیو کې د درملو او خوراکي توکو له تاسيساتو څخه 45 ټنه له نښې تېر، بې‌کيفيته او قاچاقي درمل، طبي او خوراکي توکي راټول او د اړوندو ادارو د استازو په شتون کې په خوندي ډول له منځه يووړل شول

د يادو توکو او درملو د له منځه وړلو اساسي موخه د عامه روغتيا ساتنه، او له نښې تېرو او بې‌کيفيته درملو او خوراکي توکو د کارونې مخنيوی دی

During his visit to Kunar Province, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, and his accompanying delegation laid the foundation stone for a general hospital in Khas Kunar District, with a construction cost of AFN 60.5 million.



The ceremony was attended by Kunar provincial officials, the Provincial Director of Public Health, religious scholars and tribal elders.

The Minister of Public Health stated that the hospital would be constructed using the IEA's budget. He added that construction would begin on more than 100 hospitals across the country within the current year.

Meanwhile, the Director of Public Health in Kunar stated that the 30-bed hospital in Khas Kunar District would be built at a cost of AFN 60.5 million and that construction would be completed within 18 months.



د دایکندي ولایت روغتیایي ځالو ته د نړۍ 20 زره امریکایي ډالرو په ارزښت طبي تجهیزات، درمل او طبي مصرفي توکي وېشل کېږي

د دایکندي عامې روغتیا ریاست په همغږۍ، د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق (UNFPA) له لورې د نړۍ 20 زره امریکایي ډالرو په ارزښت طبي تجهیزات، درمل او طبي مصرفي توکي د دغه ولایت روغتیایي ځالونو ته وېشل کېږي

دغه مرستې د روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا، میندو، ماشومانو او د ټولنې نورو وګړو ته د باکیفیته روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو او لاسرسي ښه‌والي په موخه چمتو شوي دي



محترم مولوی نور جلال جلالی، وزیر صحت عامه ا.ا. افغانستان و هیأت همراهش در جریان سفرشان به ولایت کنر، سنگ تهداب یک شفاخانه عمومی را به ارزش 49.7 میلیون افغانی در ولسوالی اسمار این ولایت گذاشت

در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شد، مسوولان محلی ولایت کنر، رئیس صحت عامه، علما و بزرگان قومی اشتراک داشتند

محترم وزیر صحت عامه گفت که ساختمان این شفاخانه از بودجه داخلی ا.ا. افغانستان در جریان سال جاری اعمار می‌شود و کار ساخت بیش از 100 شفاخانه در کشور آغاز خواهد شد

همچنان، رئیس صحت عامه ولایت کنر گفت که شفاخانه 30 بستر ولسوالی اسمار به ارزش 49.7 میلیون افغانی اعمار می‌شود و کار ساخت آن در مدت یک‌ونیم سال تکمیل خواهد شد



د افغانستان ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي کونړ ته د سفر په ترڅ کې د دغه ولایت په اسمار ولسوالۍ کې د 49.7 میلیونه افغانیو په لګښت د یو عمومي روغتون د بنسټ ډبره کېښوده

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د کونړ ولایتي مسؤلینو، د عامې روغتیا رئیس، علماوو او قومي مشرانو ګډون کړی وو

د عامې روغتیا وزیر وویل: د دې روغتون ودانۍ د ا.ا. له داخلي بودیجې څخه جوړېږي او د همدې کال په ترڅ کې به په هېواد کې د څه باندې 100 روغتونونو د جوړېدو چارې پیل شي

همداراز، د کونړ عامې روغتیا رئیس وویل: د اسمار ولسوالۍ 30 بستریز روغتون د 49.7 میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي، چې 30 بستره به ولري او چارې به یې د یونیم کال په موده کې بشپړې شي